

# پښتانۀ

## (اول فصل)

## د پښتنو اصل او نسب

دکتور حبيب الله تږے

وړومبے ټوک

**«د پښتون اداري فيصله کړې ده چې دکتور حبيب الله تږي مشهور کتاب «پښتانۀ» چې د پښتنو د اصل او نسب په حقله وروستے او مدلل کتاب دے او ډېر ګټه ور معلومات لري، خپلو ګرانو لوستونکو ته د پښتون په پاڼو کښې قسط وار وړاندې کړي چې کومو پښتنو دغه کتاب نۀ وي لوستلے نو چې هغوي ئې د پښتون په ذريعه ولولي.»**

د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې له ډېر پخوا نه ډول ډول روايات او نظريات اظهار شوي دي. دا روايات او نظريات دومره زيات او له يو بل نه متفاوت دي چې معروف مستشرق او پښتو پېژندونکي هنري راورټي وائي «د هيڅ قوم د اصل او نسب په باره کښې د نظريو اختلاف دومره زيات نۀ دے لکه د افغانانو د اصل او نسب په باره کښې چې دے. (پښتو ګرامر مقدمه ص 4)

چا پښتانۀ د هغوي د خپل عنعنوي روايت په اساس بني اسرائيل بللي او چا بيا قبطيان ګڼلي دي. چا په مغلو ورګډ کړي دي او چا د ارمنيانو، تاتاريانو، هپتاليانو او ساکانو په قطار کښې ودرولي دي. چا بيا په عين وخت کښې له راجپوتانو، برهمنانو، جټانو، يونانيانو، ترکانو، عربانو او نورو سره ګډ کړي دي. خو د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې تر ټولو نه عام او بېخي زوړ روايت هغه دے چې وائي پښتانۀ بني اسرائيل دي. تر ټولو نه پخوانے تحريري سند چې ما دا روايت پکښې ليدلے هغه د ابو الفضل «آئين اکبري» دے چې له کال **1587** نه تر **1598** پورې ليکلے شوے دے.

ابو الفضل کله چې د دۀ په خپله اصطلاح د کابل د سرکار د حالاتو په باره کښې غږېږي د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې يوه لنډه يادونه کوي او ليکي چې افغانان ځانونه د اسرائيلو اولاد ګڼي. په دې پسې وائي چې پښتانۀ په دې عقيده دي چې ډېر لرې نيکۀ ئې چې افغان نومېدۀ درې ځامن لرل چې هغه سړبن، غرغشت او بتن وو. په دې پسې هغه پښتانۀ ستر قبائل يادوي چې وائي د نسب سلسله ئې هم دغو دريو تنو ته رسېږي. ابوالفضل په پايې کښې دا يادونه هم کوي چې غلځي، لودي او نيازي د يو عنعنوي روايت په اساس له بلې پښنې نه دي. (ابوالفضل آئين اکبري ص **306**و **307**)

اخون درویزه هم داسې یو روایت په تذکرۀ الابرار والاشرار کښې چې د کال **1603** تر منځ ئې لیکلې، په اختصار ثبت کړے دے. دې وائي چې افغانان د مهتر یعقوب اولاد دے چې د اسرائیلو په نامه یادېږي. د اسرائیلو یو ډېر لوئے مشر طالوت وۀ، له طالوت نه دوه ځامن پاتې شول چې یو ئې آصف نومېدۀ او بل ئې افغان. د افغانانو طائفه د هم دې افغان اولاد ده. خو څۀ رنګه چې افغانان د سلېمان په غرۀ کښې اوسېدل نو په عربستان کښې سلېماني **بلل کېږي.** (درویزه تذکرۀ الابرار والاشرار ص **83** او **84**)

اما کوم اثر چې د پښتنو د اصل او نسب روایت په وړومبي ځل په تفصیل پکښې ثبت شوے هغه د نعمت الله هروي ((تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني)) دے چې له کال **1612** نه تر کال **1613** پورې لیکل شوے دے. د مخزن افغاني د روایت لنډیز دا دے:

ملک طالوت د اسرائیلو باچا وۀ. خو د مخه له خپل مرګ نه ئې د سلطنت امور مهتر داؤد ته ور وسپارل. دې خپله وروستو له اووۀ څلوېښت کاله سلطنت نه په یوه جګړه کښې ووژل شو. ملک طالوت دوه ښځې لرلې او د مرګ په وخت کښې ئې دواړه امیدوارې وې. وروستو له څۀ مودې نه د دواړو کره زامن وشول. مهتر داؤد چې د دغو مېرمنو سرپرستي ور په غاړه وه، د یوې د زوي نوم برخیا کېښود او د بلې د زوي نوم ارمیا. کله چې د برخیا کره زوئے وشو د هغۀ نوم ئې آصف کېښود او کله چې د ارمیا کره زوئے وشو د هغۀ نوم ئې افغنه کېښود.

وروستو له مهتر داؤد نه مهتر سلېمان د اسرائیلو باچا شو. دۀ د ملک د چارو د نظم او اداري کار آصف او افغنه ته ور ورسپارۀ. د دغو دوو وروڼو په تېره بیا د افغنه اولاد چې په شام کښې اوسېدۀ، دومره زیات شو چې له حسابه ووت. وروستو د مهتر سلېمان له مرګ نه د اسرائیلو ورځ بده شوه. بخت نصر شام ونیو، بیت المقدس ئې وران کړو او د آصف او افغنه د اولاد دوه د سر سړي عزیز او دانیال ئې له خپلو پېروانو سره بندیان کړل. بخت نصر وروستو د اسرائیلو دولس زره مهم خلق ووژل او پاتې ئې له آصف او افغنه سره د غور، غزني، کابل، فېروزکوه او د قندهار شاوخوا سیمو ته فرار کړل. د افغنه اولاد په دغو سیمو کښې میشته شو.

کله چې خالد بن ولید مسلمان شو نو دغو خلقو ته ئې مکتوب ورولېږۀ، د اسلام د پېغمبر د بعثت زېرے ئې پرې وکړو او د اسلام منلو ته ئې وروبلل. کله چې د افغنه اولاد ته د خالد مکتوب ورسېدو، یو شمېر مشران ئې مدینې ته روان شول. په دغو مشرانو کښې د بني افغان تر ټولو نه ستر مشر قېس نومېدۀ چې د نسب سلسله ئې ملک طالوت او ابراهیم خلیل الله ته رسېده. خالد دغه خلق د پېغمبر حضور ته وروستل.

آنحضرت له هر یوۀ نه د نامه پوښتنه وکړه. د بني افغان مشر ورته ووئیل چې د دۀ نوم قېس دے. حضرت پېغمبر ورته ووئیل قېس عبراني نوم دے څۀ رنګه چې مونږ عرب یو نو ستا نوم به وروستو له دې عربي او عبدالرشید وي.

عبدالرشید له خالد سره یو ځائے په یو شمېر جګړو کښې په مېړانه وجنګېد او خالد حضرت پېغمبر ته د هغۀ د مېړانې په باره کښې

معلومات ورکړل. حضرت پېغمبر عبدالرشید ته د بټان لقب ورکړو. بټان چې وروستو پټهان شو. هغه تیر ته وائي چې بېړۍ پرې تکیه وي. حضرت پېغمبر وروستو عبدالرشید خپل حضور ته وروبالۀ. د خېر دعا ئې ورته وکړه او له خپل یوۀ صحابي او یو شمېر انصارو سره ئې بیرته غور ته ولېږۀ چې په خلقو کښې د اسلام تبلیغ وکړي. له قېس عبدالرشید نه چې په کال **40** هجرۍ کښې په اتیا کلنۍ مړ شو درې ځامن پاتې شول، یو سړبني، بل بېټني او بل غرغشت.



نعمت الله هروي په پاپې کښې وائي پرته له کرلاڼو نه د نورو ټولو پښتنو اقوامو د نسب سلسله هم دغو درېو تنو ته رسېږي او ټول د هم دې اولاد جوړوي او کرلاڼي د قېس عبدالرشید د دیني ځوي له پښته دي. (هروي نعمت الله تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني ص **63-115**)

له نعمت الله هروي نه راوروستو هم ډېرو نورو واقعه نګارانو او هم خپله پښتنو مولفینو لکه افضل خان خټک، حافظ رحمت خان، زرداد خان او حتي قاضي عطاء الله خان پښتانۀ بني اسرائیل بللي دي. خو په غربي مؤلفینو او څېړونکو کښې د بنګال د شاهنشاهي آسیائي ټولنې رئیس سر ویلیم جونز وړومبے شخص وۀ چې د پښتنو د اصل او نسب دې عنعنوي روایت ته ئې د غربیانو جدي توجه وروا ړوله او په یوه لنډکۍ تبصره کښې ئې داسې وښوده چې کېدے شي پښتانۀ د یهودو له نسله وي.

په کال **1784** کښې یوۀ انګرېز لیکوال هنري ونسیټارټ، سرویلیم جونز ته یو لیک واستولو او په هغۀ کښې ئې ورته ولیکل. ((څۀ موده د مخه ماته د اسرار الافاغنه په نامه یو کتاب لاس ته راغے چې مولوي خېر الدین تصنیف کړے او په اصل کښې د هغۀ د یو اثر لنډ شکل دے چې حسېن ولد صابر ولد خضر د حضرت شاه قاسم سلېماني مرید... په پښتو لیکلے دے. کۀ څۀ هم چې دا لیکنه د پښتنو د قومي اصالت په باره کښې د واقعي تاریخ په حېث نۀ شي منل کېدے خو سره له دې ئې هم انګرېزي ترجمه در استوم او ښائي چې ستاسو ټولنې ته به په زړۀ پورې وي.))

د ونسیټارټ لیک او ترجمه دواړه د کال **1784** د مارچ په میاشت کښې د آسیائي څېړنو په دوهم ټوک کښې نشر شول. کومه لیکنه چې ترجمه ئې ونسیټارټ جونز ته ورولېږله، اساساً د هغه روایت یو څۀ مختصر شکل دے چې نعمت الله هروي د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې لیکلے او مونږ ئې لنډیز د مخه راواخست. (ونسیټارټ، آسیائي څېړنې دوېم ټوک ص**67** کال **1784**)

(نور بیا)